**هيئت معاونت ملل متحد در افغانستان**

**دفتر سخنگوی**
**کابل – افغانستان**

**تيليفون:** ۶۱۲۱ ۷۹۰۰۰ (۰) ۰۰۹۳ – ۶۱۲۱ ۲۴ ۰۸۳۱ ۰۰۳۹
**پوست الکترونيکی:** spokesperson-unama@un.org
**ويب سايت:** www.unama.unmissions.org

## افغانستان او د هغه ملاتړي: د وړاندې تګ لپاره ښه لار

**په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د سرمنشي ځانګړی استازی، کای آيده او د افغانستان د ماليې وزير عمر زاخيلوال ليکنه**

دا اونۍ د امريکا د متحده ایالاتو، افغانستان او پاکستان ولسمشران د هغوي د لوړپوړو مشاورانو په ګډون د دوهم ځل لپاره درې اړخيز مشورې په واشنګټن کې پيل کوي چې د سيمه ييز امنيت او اقتصادي پرمختيا پر مسالو غور وکړي. دا د افغانستان په اړه په هاګ کې د بريالي نړيوال کنفرانس چې په کې د نړۍ له ۸۰ څخه زياتو هيوادونو او نړيوالو سازمانونو ګډون درلود او هلته يې د افغان وګړو د ښې راتلونکې لپاره د خپلو اوږد مهاله ژمنو بيا تاييد وکړ، پنځه اونۍ وروسته غونډه ده.

د دې څخه لږ وړاندې ولسمشر اوباما د افغانستان لپاره نوې ستراتيژي وړاندې کړه چې د پخوا په پرتله په دې کې زيات تعادل شته. په دې ستراتيژي کې په اقتصادي پرمختيا، ښې حکومتدارۍ او سيمه ييزې همکارۍ باندې چې د برياليتوب لپاره کليدي عناصر دي تاکيد شوي دی. موږ چې دلته په افغانستان کې يو د څه وخته راهيسې دا څرګنده شوې ده چې يوازې د زيات نظامي عمل سره د جګړې د پای ته رسولو لپاره پايښت لرونکې حل نه شته. د امريکا د متحده آيالاتو نوې ستراتيژي سم غبرګون دی. که څه هم دا يوازې يو ضروري لومړنی ګام دی. د نوې ستراتيژۍ تفصيلات او دا چې هغه به څنګه پلې شي د برياليتوب لپاره خورا زيات اهميت لري. اوس موږ بايد د دې باور تر لاسه کړو چې نړيوالې مرستې بايد په ډيره اغيزمنتيا او مولديت سره مصرف شي. دا لکه چې نن ده هيڅکله دومره حاده مسله نه وه، کله چې نړيوال اقتصادي بحران په ټولو دولتونو باندې ډير زيات مالي فشار واردوي. افغان حکومت او دونران بايد هم نړيوالو ماليه ورکوونکو او هم افغان وګړو دواړو ته مسوول او حساب ورکوونکي وي څو دغه مرستې په اغيزمنتيا سره ولګوي.

تر ټولو د مخه ولسمشر اوباما د "ملکي کسانو په زياتوالی" وړانديز وکړ چې افغانستان ته په سلګونو کارپوهان راواستوي چې د افغان ظرفيت او موسساتو په جوړولو کې ونډه واخلي. افغان حکومت د ملګرو ملتونو سره يو ځای يو پلان طرح کړ چې د دغو هلو ځلو لارښوونه وکړي او په دې توګه پراخه نړيواله ټولنه په دې کې راګډه کړي. د دې پلان بنسټيزه موخه دا ده څو د دې باور تر لاسه شي چې کارپوهان د افغانستان د اړتياوو له مخې دي او نه دا چې د بهر څه يو ډول برابرونه وي. د دغه زياتوالی استقامت بايد ملي موسساتو له خوا وي چيرته چې دغه ملکي متخصصان د مرستې لپاره ګومارل کيږي او دا چې هغوي د دولت ظرفيت د دې لپاره پورته کړې چې وکړای شي د افغانستان خلکو ته ضروري خدمتونه ورسوي. دا بايد د پام وړ، د احساس وړ او په واقعي ډول پر افغاني موسسو او هغو کسانو چې مشری کوي د ظرفيت جوړونې لپاره د اندازې وړ اغيزه ولري اونه دا چې د دې لپاره يو بديل وي. دا بايد جوته وي چې که څه هم اکثره وخت داسې نه کيږي. د ۲۰۰۲ کال را په دې خوا نږدې ۲ ملیارده ډالره د تخنيکي مرستو لپاره لګيدلی دي خو د دې

تاثیرات د هغو څخه ډیر لږ دي چې هیله یې کیدله ځکه چې دا د پورتنیو کلیدي اصولو سره سم نه وو. په پایله کې موږ ډیر با ارزښته وخت دافغانستان د خپلو ظرفیتونو او موسسو د جوړولو په برخه کې له لاسه ورکړ.

دوهمه، ځینې ملی پرمختیایي پروګرامونه لکه د ملي پیوستون پروګرام په بریالیتوب سره علمی شوی دي. د دغه پروګرام د لارې په ۳۴ ولایتونو کې پر کلیوالو ټولنو باندې د دې باور شوی دی چې زیرمې په کار واچوي او د خپلو پرمختیایي پروژو د سرته رسولو لپاره پخپله مسوولیت ولري. نوی ملي پروګرامونه اوس د افغان دولت له خوا پر لاره اچول شوی دی چې د کرنې د ډګر محصولات او مولدیت زیات کړي، د خصوصي سکتور پرمختیا تقویه او سمیه ییزه سوداګري پراخه او په دې توګه پخپله د افغانستان ظرفیت د عوایدو د تر لاسه کولو لپاره لوړ کړي. سره له دې چې د اقتصادي مرستو د ۲۰ فیصدو څخه لږې یې افغانستان ته راځي چې په دغو او نورو ملي پرمختیایي پروګرامونو کې مصرف شي. د نږدې ۳۲ ملیاردو ډالرو مرستې څخه چې په تیرو اوو کلونو کې چې افغانستان ته ورکړای شوې ده ۷۹ په سلو کې یې د باندې وه (په دې مانا چې د افغانستان د دولتي بودجې څخه د باندې) چې مختلطې نتیجې یې درلودې.

دریم، که په افغانستان "پاکستان" کې اوسنۍ شخړه پای ته رسیږي نو ډیره ضروري ده چې اقتصادي دوام لرونکې ودې ته پام وکړو. د دې لپاره یو قوي خصوصی سکتور ته ضرورت شته چې وکولای شي محتاجو افغانانو ته د اقتصادي پیاوړتیا له لارې د خپل هیواد په راتلونکې کې ونډه ورکړي او په دې ډول دوي د تندروانو له منګولو څخه وژغوری. د سوداګرۍ لپاره ډیر بنسټیز شرایط یا نشته او یا په ډیره کمه کچه باندې موجود دي. پرمختیایي کارونه باید د یو داسې چاپیریال په رامنځته کولو باندې زور واچوي، چې خصوصی پانګه اچونه راجلب کړي او محلي سوداګرۍ ته وده ورکړي. سره د دې چې شرایط ډیر سخت دي بیا هم محلي سوداګري په دې وتوانیدله چې پرمختګ وکړي او کولای شي چې د هیواد د بیا ودانولو لپاره یو لړ ضروري خدمتونه او توکي برابر کړي، خو بیا هم نړیواله ټولنه نظامي او ملکي ټولنې د اړتیا څخه زیات توکی هیواد ته واردوی. له افغانستان سره مرستې په اقتصادي ډول هغه مهال اغیزناکې ثابتیږي چې ډیر خلک افغاني توکي او خدمتونه راونیسي، محلي خصوصی سکتور تقویه کړي او د کار نوي امکانات پیدا کړي.

څلورم، له فساد سره مبارزه او هڅې کولای شي چې مرستې نورې هم اغیزمنې کړي. په داسې حال کې افغان حکومت باید د فساد په وړاندې وجنګیږي په هر ځای کې چې دا بدغونې پیښنه سر راپورته کوي او د نړیوالو مالیه ورکوونکو او د افغانانو په وړاندې حساب ورکونې ته په داسې ډول حاضر وي، چې د مرستو د لګښت حساب ورکړي، تمویلونکې هم باید دا مسوولیت ومني او داسې لارې چارې خپلې کړي چې په پایله کې یې د فساد ذاتي ګواښ کم شي. افغان حکومت دې ته ژمن دي چې دغې مبارزې ته زور ورکړي، خو په دې لار کې د نړیوالې ټولنې مرستې ته اړ دی. د حکومت ځینې برخې چې تر شک لاندې دي، لکه د مالیې او داخله وزارتونو لا د مخې داسې پالیسي غوره کړي دي چې د فساد سره په ټولو کچو مبارزه وکړي او په داخل کې د کنترول او پلټنې ادارې له سرې تقویه او نوې کوي. نور ډیر وزراتونو به هم دغه لار تعقیب کړي، خو افغان حکومت نه شي کولای په یوازې ډول له فساد سره مقابله وکړي. موږ باید د فساد لوی لاملونه له منځه یوسو چې هغه د افغان حکومت له ولکې څخه بهر دي، د دې په ګډون چې مرستې په کوم ډول افغانستان ته رسیږي. تیره اونۍ ولسمشر کرزی د افغانستان لپاره د امریکا د ځانګړی پلټونکی جنرال ارنورډ فیلډز څخه غوښتنه وکړه، چې په مستقیم ډول له افغان چارواکو سره کار وکړي څو د افغان حکومت ظرفیت لوړ شي او فساد تعقیب او کشف کړي.

پنځم، د دې اونۍ درې اړخیزه غونډې د دې استازیتوب کوي چې سیمه ایزه همکاري باید تقویه شي چې د افغانستان او پاکستان وګړو ته سوله راوړي. څو ورځې وروسته به په اسلام آباد کې د سیمه ایز اقتصادي همکاري یو کنفرانس جوړ شي. په دې سیمه ایز همکارۍ کې ډیر زیات قوت موجود دی. ښه بنیادي ساختارونه (سرکونه، د ریل پټلۍ او بریښنا مزي) کولای شي چې د افغانستان اقتصادي ودې لپاره زیاته مرسته وکړي او دغه هیواد پر خپلو پښو ودروي. په دې ډول به افغانستان له هغو مرستو څخه بې نیازه شي چې نن ورځ یې د نړیوالې ټولنې له خوا تر لاسه کوي. د محلي کارپوهانو په کار اچول چې د افغانستان له کلتور، ژبو او اقلیم سره اشنایي لري په داسې مهمو سکتورونو کې لکه کرنه کولای شي د افغانستان د ظرفیت په لوړولو کې مرسته وکړي. د دوي مرستې لږ لګښت غواړي او زیات پایښت لرونکې دي تر هغو کارپوهانو څخه چې د لیرې ځایه څخه افغانستان ته راځي او ددې هیواد په اړتیاوو پوره خبر نه دي.
افغان حکومت د ولسمشر اوباما ستراتیژي ته ډیر چټک ځواب ووایه. موږ اوس د نړیوالې ټولنې څخه غوښتنه کوو چې له افغان حکومت سره ددې پلان په طرح او تطبیق کې مرسته وکړي.